مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۴/۰۹

# دوه وژونکي خطرونه

## (کورونا او ولږه)

هیواد وال ښه پر دي پوهېږي چي هیواد مو په کوم زورونکي او حېرانونکي وضعیت کي دی، بی ثباتي او له راز ـ راز فسادونو ډک موجود نظام، نا پوه او په اګاهانه یا غیر اګاهانه توګه د هیواد د لوړو ګټو، ملی هویت بربادونکي طالب مشران، تر ستوني غرق په فساد او چور و تالان کي سیاسیون او تنظیمي ټوپکوال، نړیوال استعمار او حریص ظالم ګاونډي هیوادونه او د دې ټولو تر څنګ تباه کونکي کورونائي وبا، ټول هغه څه دي چي زموږ د بې وزلي او مظلوم ولس په ستونی یې پښي ایښی، هیواد مو ورانوي او هیواد وال مو د وژنو او تباهی لور ته ور کاږي.

هغه هیواد چي رواني ځلوېښت کلني نیابتی جګړې تري ټول مادي او معنوي ارزښتونه اخیستي، له خاورو سره برابر کړی او دومره یې د نفاق او بی باوریو اور ته لمن وهلي چي حتا د یو پلار زامن یې هم سره په خپل منځ کي د وژلو تر کچي مخامخ کړی دي.

دا هیواد که چېري له سولي، ملي یووالي، زده کړو نه محروم نه وای پاتي، کرنه، مالداري، د وچو او تازه میوو لېږد، صنعت او شتمنوځمکنیو منابعوو کانونو او اوبو له لارې به کاملا بسیا او د استعماري طاقتونو له تهدید او ګواښونو نه به په امان کي وای.

تر هغه ځایه چي لیدل کېږي زموږ د هیواد ټولي شتمنی او ارزښتونه یوازې او یوازې زموږ د هیوادوالو د بې باوریو، بې اعتمادیو، نفاق، ورور وژنو او هیواد ورانولو له امله د تباهی لور ته لېږدول شوي دي او تر څو چي هیواد وال همدا تشي ډکی نه کړي، روانه غمیزه به دوام لري.

هوښیار او پوه ملتونه کله چي خپل هیواد او ولس د بربادی او تباهی په حالت کي ګوري، نور هم سره یو کېږی او د خپل هیواد او ولس د غمیزې مخه نیسی، مګر په خواشنۍ سره چي زموږ مشرانو سره د ولس او هیواد هیڅ سوچ نه شته، د قدرت د لیونیانو په توګه ړانده دي، یوازې ځان او خپلي ګټي او قدرت ویني او بس.

په باور سره چي د هرې ډلي داسی مشران به د هیواد په تاریخ کي د تورمخو او هیواد دښمنو شخصیتونو په توګه ثبت شي او راتلونکي نسلونه به پرې قضاوت وکړي.

همدا اوس تر ټولو ستره بلا او هغه غمیزې چي زموږ هیواد او ولس ورسره لاس او ګریوان دي، هغه د کورونا وبا ده چي ورځ تر بلي د هیواد په ښارونو، کلو او بانډو کي د خپریدو په حال کي ده.

دا خو سمه خبره ده چي په هیواد کي دولت او د روغتیا وزارت، امنیتي ارګانونو د دې ویروس د مخنیوي له پاره وقایوي شرطونه او پاملرني، غوره کړي، په ښارونو کي یې د ټولېدو پر ځایونو د تګ راتګ بندیزونه لګولي دي، خو دولت او دغو ارګانونو دا سوچ هم کړی دی، چې د هیواد په ټولو ښارونو کي د څو میلونو ورځنیو ښاري لومړنیو د احتیاج وړ رانیونکي او پلورونکي چي د همدی کراچیو، له لارې د سرک او لارو د سر د امکاناتو د خرڅلاو، خوراکي توکو د پلور او پیر له لارې د خپلو کورنیو روزمره اړتیاوي او لګښتونه پوره کوي، که چیرې دغه هم پرې بند شي، ژوند به یې په لوی لاس د بل تر کورونا بد تر مرګ سره مخامخ نه وي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هیواد وال تل د میډیا له لارې خبرېږي چې په سلګونو، تنکي ځوانان، ماشومان د هلکانو او نجونو په ګډون د سرک له غاړې د موټر وینځلو، بوټ رنګولو او لسګونو نورو خدماتو له لارې د خپلو کورنیو له پاره د یوې وچې مړۍ ډوډۍ لپاره ورځنی هلې ځلې کوي چې اوسنیو ښاري تګ راتګ او بندیزونو یې دغه کوچني لاسي اقتصاد او د اړتیاوو پوره کول ترې اخلي او د ولږې د مرګ له ستونزو سره یې مخ کوي.

هو!

که د نړۍ پر مخ تللی هیوادونه داسي بندیزونه وضع کوي، هغوي نور لومړني خدمات وړاندې کوي، د کارکونکو او موسساتو معاشونه نه قطع کوي، د سترو مارکیټونو او مغازو له لارې اکمالات او اړتیاوې د ثابتو نرخونه د کنترول په نظر کې نیولو سره جاري ساتي، چې په خواشینی سره زموږ په هیواد کې د خوراکي توکو کموالی د نرخ لوړ والی، د مزد او معاشاتو نه شتون هغه څه دي چې زموږ هیواد وال ورسره ستونزمن ژوند تېروي او د کورونا شانته د بل مرګ له ګواښ سره یې مخ کوي.

هیله ده چې، حکومت، ملي تجاران، د کورنیو او بهرنیو بانکونو لرونکي افغانان، د ډېر مال دولت او شرکتونو خاوندان د اسلامي، افغاني او ورورولي د احساس په نظر کې نیولو سره په ګډه یو داسي د لومړنیو اړتیاوو د خدمتونو د ټولني د جوړولو له لارې مرستي وکړي چې د کابل ښار په ځو زونونو او همدا ډول د ولایتونو او ولسوالیو په مرکزونو کې هغو کسانو ته مرستي ورسوي چې د مالي امکاناتو د نه موجودیت له امله یې بی له دې چې د کورونا خطر تهدید کړي، د ولږې د مرګ له خطره هم وژغورل شي.

همدا ډول کیدای شي د هغو هیواد والو د مرستو د راجلبولو لپاره چې په بهر کې ژوند کوي یو مرستندوی بانکي حساب پرانستل شي چې د پورتنیو اړو کسانو له پاره ترې استفاده تر سره شي.

په دې ترتیب کیدای شي چې هم د کورونا وبا د وقایوې شرائطو د عملي کیدو له لارې د هیوادولو ژوند وسائل شي او هم د مجبوریتونو او اقتصادي ستونزو د کورونا له مرګه د بې وزلو هیوادوالو د ژوند د ژغورلو په لار کې عملي ګامونه اوچت کړای شي.

**د هیواد والو د ژوند ژغورلو پر لور!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ